

# د ماشومتوب مرحلې په زده کړو او د مراقبت په خدماتو کې د خپل ماشوم له لیدلوري څخه ملاتړ

**PASHTO**

د ماشومتوب مرحلې په تعلیم کې مثبت پیل ډېر مهم دی. دا مهمه ده چې تاسو او ستاسو کورنۍ د هرکلي، خوندیتوب او ملاتړ احساس ولرئ. د خدماتو په لومړیو ورځو کې ستاسو ماشوم له نورو ماشومانو سره بلدېږي او له خپلو ښوونکو، تعلیم ورکوونکو او د ماشومتوب مرحلې له نورو متخصصینو سره د اعتماد وړ اړیکې پیلوي.

په ویکتوریا کې د ماشومتوب مرحلې تعلیم او د مراقبت خدماتو ته د *Victorian Early Years Learning and Development Framework* (VEYLDF) له خواه لارښوونه شوې ده. دغه چوکاټ تعلیم ورکوونکو ته خبر ورکوي چې د ماشومانو هویت او د هغوی د کورنۍ او کلتور تاریخ د هغوی زده کړې او ودې ته بنه ورکوي. کله چې ماشومان دا احساس کړي چې متخصصین د هغوی ځانګړي هویت ته درناوی لري او مني یې، هغوی ته د هرکلي حس پیدا کېږي او په ښه توګه زده کړې کوي (VEYLDF, 2016, pg. 12). دا پوهاوی هغه طرزالعمل په ګوته کوي چې تعلیم ورکوونکي یې د معرفۍ او توافق ته د رسېدو په پړاو کې د هغوی د ماشومتوب د نوي تعلیم او د مراقبت د خدماتو په جریان کې ستاسو د ملاتړ په موخه کاروي.

د ماشومتوب د مرحلې تعلیم او د مراقبت خدمات د تعلیم ورکوونکو او کورنیو ترمنځ ګډې همکارۍ او مشارکت ته د کیفیت پروګرام د بنسټ په توګه ګوري. له پیل څخه د درناوي په اساس ایجاد شوې اړیکې د لوړ کیفیت د خدماتو څرګندوونکې دي. تاسو کولای شئ له تعلیم ورکوونکو څخه دا تمه ولرئ چې حلیم واوسي او ورین تندی ولري او تاسو د خپلې کورنۍ ژبې [ژبو] کارولو ته وهڅوي.

خدمات له تاسو سره د تلفوني ترجمې د خدمت له لارې له اړیکو څخه ملاتړ کوي ترڅو ډاډ حاصل کړي چې تاسو په سمه توګه خبر شوي یاست او د دې فرصت لرئ چې خپلې پوښتنې مطرح کړئ او په هغه ژبه چې تاسو ډېر ورسره راحته یاست د اضافي معلوماتو غوښتنه وکړئ. سربېره پر دې، یو ملاتړی کارمند به چې ستاسو د کورنۍ په ژبه خبرې کوي موجود وي ترڅو ستاسو له ماشوم سره د لنډې مودې لپاره مرسته وکړي څکه چې هغوی د ارتباطاتو پراختیا او په خدمت کې د شمولیت حس رامنځ ته کوي.

د ماشومتوب مرحلې باکیفیته تعلیم کورنۍ د ماشومانو پر زده کړه او پراختیا باندې د اساسي نفوذ په توګه پېژني (VEYLDF, 2016, pg. 9). تعلیم ورکوونکي د لومړنیو کلونو په پروګرام کې د کورنۍ نظریاتو او مشارکت ته ارزښت ورکوي. دا نه یوازې د تعلیم ورکوونکو د کړنو په هکله خبر ورکوي بلکه له ماشومانو سره مرسته کوي چې د خلکو او د هغوی د تعلیم ورکوونکو او د مراقبت او کور د محیط ترمنځ چې د زده کړې پایلو ته پراختیا ورکوي، اعتماد، امنیت او اړیکې رامنځ ته کړي. کورنۍ همدارنګه هڅول کېږي چې د خدماتو په لومړنیو ناستو او غونډو کې دخیل او حاضر واوسي. دا ستاسو له ماشوم سره مرسته کوي چې د امنیت احساس وکړي او له تاسو سره مرسته کوي چې په دې پوه شئ چې په خدمت کې څه تېرېږي کله چې ستاسو ماشوم له تاسو پرته هلته وي.

ستاسو د ماشومتوب مرحلې خدمت به د معرفۍ پلان ولري ترڅو له تاسو او ستاسو له ماشوم سره مرسته وکړي چې له خدماتو سره آشنا شئ. په دې کې به لاندې موارد شامل وي؛

- د رسمي حاضرۍ له پیل مخکې له خپل ماشوم سره له خدمت څخه لیدنه ترسره کول
- له لنډو ښوونیزو غونډو څخه پیل او بیا اوږدو غونډو ته مخه کول ترڅو له تاسو او ستاسو له ماشوم سره مرسته وشي چې د راحتۍ احساس ولرئ.

ستاسو د ماشومتوب دورې تعلیم ورکوونکي به له تاسو سره وخت تېروي او له تاسو څخه به ستاسو او ستاسو د ماشوم په هکله ځینې پوښتنې کوي. دا به هغوی ته ستاسو د ماشوم د اړتیاوو په اړه ښه پوهاوی ورکړي او له دوی سره به مرسته وکړي چې داسې پروګرام طرحه کړي چې ستاسو د ماشوم لپاره د زده کړې فرصتونو او مثبتو پایلو ته پراختیا ورکوي.

د هغو معلوماتو بېلګې چې د ماشومتوب دورې خدمات یې ممکن له هغوی سره د شریکولو غوښتنه وکړي په لاندې ډول دي؛

- د ماشومانو د روغتیا په هکله معلومات - د بدن د دفاعي سیستم په هکله ریکارډونه، طبي اړیتاوې، ناروغی او حساسیت یا الرژی.
- د ماشوم په پمپرو کې د بدلون ترجیحات، د تشناب ترجیحات او د کور کړنې.
- هغه خواړه چې ماشومان یې خوري، د خوړو د وخت دود/ورځنی برنامه
- د ماشومانو د استراحت/خوب اړتیاوې.
  - آیا هغوی په کټ کې ویده کېږي، که په خپلو تختونو کې یا یو ځای؟
  - کومې سندرې هغوی آرامه کوي؟
  - آیا هغوی په زړه پورې کتاب، د لوبو ځانګړی شی یا کمپله لري؟
  - هغوی د ورځې په جریان کې معمولاً په کوم وخت کې استراحت کوي/ویده کېږي؟
- ستاسو د کورنی لپاره کوم جشنونه او رواجونه مهم دي؟
- تعلیم ورکوونکي به د بل هر ډول معلوماتو هرکلی وکړي چې تاسو یې ورسره شریکوئ.
- تاسو به هم د خپل ماشوم په هکله هغه معلومات ولرئ چې تاسو غواړئ تعلیم ورکوونکي په دې پوه شي چې یاد معلومات به له هغوی سره ستاسو د ماشوم سره په بوختیا کې مرسته وکړي.

### نورې لارې چې کولای شئ له خپل ماشوم سره د ماشومتوب دورې په خدماتو کې مرسته وکړئ

- په خدمت کې له خپل ماشوم سره وخت تېر کړئ - خپل ماشوم ته د خدمت ورځني کارونه تشریح کړئ، کیسې ولولئ او په خپلې ژبه سندرې ووایئ.
- له هغوی سره مرسته وکړئ چې له نورو ماشومانو سره روابط پراخه کړي. دا کار ښایي په ساده ډول د هغوی په تشویق سره ترسره شي چې د نورو په څنګ کې کیني، چې خپل ځانونه نورو ماشومانو ته معرفي کړئ، په فعالیتونو او لوبو کې برخه واخلئ.
- د خپل ماشوم او نورو هغو کسانو په هکله خبرې کولو ته وخت ورکړئ چې په ورته ژبه خبرې کوي.
- له خپل ماشوم سره د هغوی د تجربو او احساس په هکله خبرې وکړئ: هغوی ته بیا ډاډ ورکړئ او ویې هڅوئ.
- ډاډ حاصل کړئ چې ستاسو ماشوم په دې پوهېږي چې د هغوی تعلیم ورکوونکي څوک دي، نومونه یې څه دي او دا چې دوی کولای شي مرستې ته د اړتیا په صورت کې هغوی ته ورشي. هغوی ته فرصت برابر کړئ چې د خپل تعلیم ورکوونکي د نوم لوستل له تاسو سره تمرین کړي او له هغوی څخه د مرستې غوښتنه وکړي.
- همېشه له تګ څخه مخکې خدای پاماني وکړئ او خپل ماشوم ته ډاډ ورکړئ چې تاسو به وروسته بېرته راګرځئ. دا ښه نظریه ده چې له خپل ماشوم سره مرسته وکړئ ترڅو له تګ څخه مخکې له تعلیم ورکوونکي او/یا نورو ماشومانو سره په یوه فعالیت کې برخه واخلي.
- له خپلو ماشومانو سره یوه شپه یایو سهار مخکې له دې چې تولګي ته لاړ شي د خدمت د ورځنیو کارونو او چاپېریال په اړه بحث ترسره کړئ ترڅو هغوی ته دا فرصت برابر شي چې خپلې پوښتنې مطرح کړي او دا چې تاسو وکولای شئ د هغوی اندېښنو ته چې ممکن ویې لري ځواب ووایاست.
- په یاد ولرئ چې ستاسو د ماشوم ښوونکي او تعلیم ورکوونکي موجود دي چې په خدمت کې د اوسېدو پر مهال هم له تاسو او هم ستاسو له ماشوم څخه ملاتړ وکړي.

**References**

Department of Education and Training, 2016. *Victorian Early Years Learning and Development Framework.*